**مطبوعاتي اعلامیه**

## د بګرام له پوځي اډې څخه د امریکا بشپړ وتل په افغانستان او نړۍ کې د امریکا د واکمنۍ د زوال او ماتې ښکارندوی دی

د امریکایي سرتېرو وروستۍ ډلې له نېږدې ۲۰ کلونو وروسته د بګرام پوځي اډه پرېښوده. د امریکایي پوځونو له دې وتلو سره سم په افغانستان کې د امریکا او ناټو پوځي ماموریت د پای ته رسېدو په حال کې دی.

د بګرام پوځي اډه، چې یو مهال پکې په لسګونه زره امریکایي پوځونه مېشت وو او په سیمه کې د امریکا د واکمنۍ سمبول بلل کېدله، اوس په یوه کنډواله بدله شوې ده. ﴿**فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ**﴾(نمل:۵۲) یعنې: دغه د دوی هغه بې څښتنه کورونه دي چې د ظلم له امله په کنډواله بدل شول، له شک پرته په دې کې د هوښیارو خلکو لپاره د عبرت نښې دي.

له دغې پوځي اډې څخه، چې د ښکېلاکګرو اصلي هستوګنځی و، د افغانستان د بې ګناه وګړو د وژلو لپاره زرګونه پروازونه کېدل. ددې پوځي اډې په زړه کې یو داسې ډاروونکی زندان و، چې هېڅ انساني ارزښت ته پکې پام نه کېده. د بګرام د پوځي اډې د لویوالي او د خورا زیاتو تاسیساتو د شتون له امله ځینو خلکو داسې ګومان کاوه چې ګواکي ددې پوځي اډې تشېدل او د امریکانو وتل یو خوب او خیال دی. مګر الله سبحانه وتعالی خورا لوی دی او کفار یې د هغوی په خپل مکر او پلان کې ډوب کړل او د افغانستان د مسلمان او مجاهدو خلکو د فکري، سیاسي او وسله والې مبارزې په مټ یې دا خوب ربنتیا کړ.

کله چې ۲۰ کاله وړاندې امریکایي ښکېلاکګرو پر دغه خاوره یرغل وکړ، ځینې خلک په داسې توهم باندې اخته شول، چې ګواکي امریکایان د دوی «د ژغورنې پریښتې» دي. مګر واقعیت وښودله چې امریکا د وحشت هیولا ده، چې خپل ځان یې د غولوونکو خبرو، بشپړپاله مرستو او بشري حقونو د ملاتړ د شعارونو تر شا پټ کړی و. اوس چې امریکایان له افغانستان څخه د وتلو په حال کې دي، نو اړینه ده چې د دوی د میراث په اړه خبرې وشي. امریکا شاته له هره اړخه یو لړزاند او مات دولت، سیاسي او ټولنیزې ګډوډۍ، یوې بلې ویجاړوونکې جګړې ته د افغانستان ورټېل وهل، بې کارۍ او بې وزلۍ پرته بل څه په میراث نه دي پرېښي.

له شک پرته چې له افغانستان څخه د امریکایي پوځونو ذلیلانه وتل د نړۍ په کچه د امریکا د دروغجن ځواک څخه پرده لرې کوي او په ډاګه کوي چې امریکا نوره د زوال په درشل کې ده او ژر ده چې د راشده خلافت په تاسیسولو سره به د امریکا پر تابوت باندې وروستی مېخ ټک وهل شي او بشر به ددې عصر د مستکبر له خپل‌سرۍ وژغول شي. دا د الله سبحانه وتعالی سنت دي چې ظالم او سرکښه ځواکونه له منځه وړي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**